مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۲۸** (از ۱۰ الی ۱۷ اسد ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

### پروسهٔ صلح در خطر تعطیل یا تعویق؟

- رهبری جدید طالبان و پروسهٔ صلح ........ ۳
- صلح در سخنان ملا اختر محمد منصور ........ ۵
- استعفای "طیب آغا" و موقف دفتر قطر ........ ۵
- آیندهٔ مذاکرات صلح ........ ٦

### د جنايي پېښو زياتوالی؛ عوامل او حل لارې

- د ثبت شويو جنايي پېښو کچه ........ ۸
- ناثبت شوې جنايي پېښې ........ ۱۰
- د جنايي پېښو د زياتېدو عوامل ........ ۱۰
- حل لارې او سپارښتنې ........ ۱۳

## مقدمه

په اسلام‌آباد کې تېره میاشت د طالبانو او افغان حکومت د استازو مخامخ ناستې، د سولې د خبرو اترو د بریا هیلې زیاتې کړې؛ خو د دغه بهیر دویم پړاو د ملا محمد عمر د مړینې د اعلان له کبله وځنډېد. طالبانو له تېرو څو کلونو راهیسې په دوامدار ډول، د سولې د خبرو اترو یوازېنی ادرس د قطر دفتر باله او د قطر دفتر هم د طیب اغا تر مشرۍ لاندې طالبانو ته په سیاسي ډگر کې ډېرې لاسته راوړنې درلودې؛ خو د ملا محمد عمر د مړینې له اعلان وروسته طیب اغا هم استعفا وکړه. اوس پوښتنه دا ده، چې د طالبانو د رهبرۍ له بدلېدو سره به د سولې بهیر په کوم لوري ولاړ شي؟

د تحلیل په دویمه برخه کې د هېواد په کچه د ورځ تر بلې زیاتېدونکو جنایي پېښو په اړه لولئ. هره ورځ یوازې په لویو ښارونو کې لسگونه جنایي پېښې کېږي او د شته څېړنو له مخې دا کچه په زیاتېدو ده؛ مگر د دا ډول پېښو د مخنیوي لپاره په تېرو څو کلونو کې کوم د پام وړ گام نه دی اوچت شوی. د کابل امنیه قوماندان د تېرې چارشنې په ورځ وویل، چې یوازې په تېرو دوو اوونیو کې په کابل کې د 117 قضیو په تړاو 205 تنه نیول شوي دي، چې د تېر کال په پرتله د جنایي جرایمو د لوړې کچې ښودنه کوي. دا هغه پېښې دي، چې د امنیتي ځواکونو تر کنټرول لاندې سیمو کې ترسره شوې دي او په لرې پرتو سیمو کې او هغه پېښې چې له پولیسو سره یې د ثبتېدو امکان کم وي، تر دې هم زیاتې دي.

د دې اوونۍ په تحلیل کې، په همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د خپرنیزې څانگې شننې او څېړنې لولئ.

# پروسهٔ صلح در خطر تعطیل یا تعویق؟



بعد از افشای خبر درگذشت ملا محمد عمر رهبر طالبان، نگرانی‌های زیادی از آیندهٔ مذاکرات صلح میان حکومت افغانستان و طالبان ابراز می‌شود. سوال این است که آیا از این ببعد می‌توان به آیندهٔ این مذاکرات خوشبین بود یا نه؟

در گذشته مذاکرات مقدماتی در اورومچی و به دنبال آن مذاکرات در "مری" این خوشبینی‌ها را به میان آورده بود که شاید این نشست‌ها بتواند گره کور مشکل افغانستان را بگشاید و روزنه‌ای به سوی صلح گشوده شود، اما به دنبال اعلام خبر درگذشت ملا محمد عمر، آن هم در بیش از دو سال قبل، موجب گردید تا مذاکرات دور دوم که قرار بود در اسلام‌آباد برگذار گردد، تا آیندهٔ نامعلوم به تعویق افتد در حالیکه مقامات حکومت افغانستان اعلام داشته بودند که موضوع آتش‌بس در مذاکرات بعدی، در صدر اجندای مذاکرات قرار خواهد داشت.

## رهبری جدید طالبان و پروسهٔ صلح

در مورد ملا اختر محمد منصور، شخصی که اکنون به عنوان رهبر طالبان از وی نام برده می‌شود، باید گفت که وی از سال 2010 و بعد از دستگیری ملابرادر، به عنوان شخص شماره دوم تحریک طالبان منصوب گردید و به عبارهٔ

دیگر در پنج سال گذشته وی به نام ملا محمد عمر، عملا سررشته‌دار امور تحریک طالبان از فعالیت‌های نظامی گرفته تا تحرکات سیاسی بود.

اگر این دورهٔ پنج ساله را با زمان قبل، که ملا برادر مسؤول امور اجرائی طالبان بود، مقایسه کنیم به این نتیجه می‌رسیم که دید طالبان در دوران پنج سال اخیر نسبت به صلح و مذاکرات و به صورت کلی نسبت به جهان، تغییر کرد. قبل از آن هرگونه تمایل به صلح در صف طالبان بدعتی کفرآمیز به شمار می‌آمد و اگر کسی از صف طالبان از ضرورت تفاهم و صلح با امریکا یا حکومت افغانستان سخن می‌گفت، خطر بزرگی را به جان می‌خرید.

این گونه طرز دید موجب شده بود تا جنگ در افغانستان از دید طالبان نه تنها جنگ برای آزادی افغانستان بلکه برای گرفتن انتقام از امریکا به خاطر دست‌اندازی‌هایش در سایر نقاط جهان اسلام نیز تلقی گردد. از جانب دیگر این دیدگاه طالبان موجب می‌شد تا جامعهٔ جهانی طالبان را به عنوان یک گروه هم‌پیمان القاعده بشناسد که یک گروه تندرو است و برنامهٔ مبارزهٔ مسلحانهٔ بین‌المللی دارد.

جنگ افغانستان تا آن زمان را می‌توان (جنگ بر علیه یک مجهول) نامید. به این معنی که برخلاف تمام جنگ‌های تاریخ، در جنگ امریکا علیه طالبان، یک طرف یعنی طالبان به صورت کلی فاقد آدرس به منظور تماس بود که فقط در میدان جنگ حضورش احساس می‌شد و در جای دیگری قابل دسترس و رویت نبود.

بعد از دستگیری ملابرادر و جانشین شدن ملا اختر محمد منصور، برای نخستین بار موضوع مذاکره با خارجی‌ها به منظور رسیدن به صلح در دستور کار رهبری طالبان قرار گرفت. شاید در این تغییر مفکورهٔ طالبان، اعلام خروج نیروهای خارجی از افغانستان نیز بی‌تاثیر نبوده و دست‌آویزی برای ملا منصور باشد تا ضرورت مذاکره با خارجی‌ها را مطرح سازد.

مذاکرات میان طیب آغا و مقامات امریکایی که سرانجام به آدرسی برای طالبان در قطر منجر شد، به این دلیل با مخالفت شدید مواجه نگردید که همه تصور می‌کردند که این کار به دستور ملا محمد عمر صورت گرفته است وگرنه در همان زمان نیز فرماندهان مهم طالبان با این کار مخالف بودند و باور شان این بود که مذاکره به منظور صلح، روحیهٔ جنگجویان را تضعیف می‌نماید.

## صلح در سخنان ملا اختر محمد منصور

ملا اختر محمد منصور در سخنانی که در جریان گردهمایی به منظور گرفتن بیعت به وی صورت گرفت، تلاش‌های صلح را دسیسهٔ دشمنان خواند و این سخن وی به مخالفت وی با جریان صلح تعبیر شد، اما در این رابطه باید به فضایی که این سخنان در آن ابراز شده است، نیز توجه شود.

در آن گردهمایی، گروه بزرگی از طالبانی شرکت داشتند که عملا در میدان جنگ حضور دارند و منصور نمی‌توانست در حضور آنان به صلح بپردازد و از مذاکرات صلح حمایت نماید، اما اشارات وی به اینکه هر تصمیمی که در تحریک صورت گیرد مطابق به شریعت خواهد بود و نیز اشاره به کمیسیون سیاسی در تشکیلات اداری طالبان، می‌تواند نوعی تائید از راه‌های غیر از جنگ برای رسیدن به هدف باشد.

## استعفای "طیب آغا" و موقف دفتر قطر

بعد از انتشار خبر مرگ ملا محمد عمر و بیعت به ملا اختر محمد منصور، صداهایی هم به مخالفت با وی بلند شد. این آوازها به معنای مخالفت با پروسهٔ صلح و مذاکره نبود، زیرا کسانی که این صداها را بلند کرده‌اند خودشان در مذاکرات صلح در ارومچی و اسلام آباد شرکت داشتند. بنابراین می‌توان گفت که جانب مقابل منصور، نیز مخالف با پروسهٔ صلح نیست.

اما خبر مهم در این رابطه استعفای سید طیب آغا از ریاست دفتر سیاسی طالبان در قطر است. طیب آغا از افراد مورد اعتماد ملا محمد عمر بود و می‌توان گفت که تقرر وی به این سمت از طرف ملا اختر محمد منصور در سال 2010 نیز برای دادن اطمینان خاطر به ملا محمد عمر بود که دفتر سیاسی دست به کاری خلاف رای رهبر طالبان نخواهد زد.

اما اکنون طیب آغا در استعفانامه‌ای که به رسانه‌ها ارسال نموده دلایل این استعفا را بیان کرده است. نخستین اعتراض وی این است که چرا خبر مرگ ملا محمد عمر از وی پنهان نگهداشته شده بود؟

طیب آغا به عنوان رئیس دفتر سیاسی طالبان در طول سال‌های گذشته تماس‌های فراوان با کشورهای مختلف داشته که در آن ملاقات‌ها، در مورد زنده بودن ملا محمد عمر به آن‌ها اطمینان داده بود. اکنون وی گمان می‌کند که با افشای خبر مرگ رهبر طالبان در بیش از دو سال گذشته، او دیگر نخواهد توانست در مذاکرات با خارجی‌ها، همان وزن سابق را به عنوان نمایندهٔ طالبان داشته باشد.

ناگفته نباید گذاشت که دو سال قبل نیز شایعهٔ خبر استعفای طیب آغا به گوش رسید که بعدا رد شد. به نظر می‌رسد که وی از قبل نیز نوعی آشفتگی را در دستورهایی که به وی داده می‌شد و تقرری‌هایی که در دفتر قطر از طرف شورای رهبری طالبان صورت می‌گرفت، احساس کرده بود.

اما مسئلهٔ مهمی که وی در این استعفانامه ذکر کرده، تعیین رهبری جدید طالبان در داخل پاکستان است. او همیشه به دیپلومات‌های کشورهای دیگر اطمینان می‌داد که طالبان تحت اثر و نفوذ پاکستان نیستند اما اکنون با این شیوهٔ انتخاب رهبری، وی نخواهد توانست این جریان را توجیه نماید که چرا انتخاب رهبر جدید در خارج از کشور صورت گرفته است.

در استعفا نامهٔ طیب آغا آمده است که در گذشته هرگونه انتخاب رهبر در خارج از کشور، برای افغانستان پیامدهای ناگوار در قبال داشته است. او به انتخاب رهبران حکومت کمونیستی، حکومت مجاهدین که در پیشاور صورت گرفت و سرانجام به انتخاب سران حکومت فعلی در کنفرانس بن می‌پردازد و نتیجه می‌گیرد که رهبران برگزیده شده در خارج از افغانستان، هرگز رهبران موفق برای افغانستان نخواهند بود.

وی نمی‌گوید که با رهبری جدید مخالف است بلکه همان موضعی را انتخاب می‌نماید که خانوادهٔ ملامحمد عمر برگزیده‌اند یعنی با هیچکس بیعت نخواهد کرد، اما به عنوان یک فرد در کنار طالبان خواهد ماند.

بعد از استعفای سید محمد طیب آغا، شیر محمد عباس ستانکزی معاون دفتر قطر و سایر اعضای آن دفتر حمایت خود را از ملا اختر محمد منصور اعلام کردند و بر اساس گزارش‌ها شیر محمد عباس ستانکزی به عنوان رئیس دفتر سیاسی طالبان، نیز تعیین شده است.

## آیندهٔ مذاکرات صلح

مذاکرات صلحی که تاکنون با میانجیگری پاکستان صورت گرفته، دفتر قطر را شامل نشده است. در گذشته به نمایندگی از طالبان، کسانی در این مذاکرات شرکت داشتند که اکنون با رهبری جدید مخالف اند. بنابراین مذاکره به منظور رسیدن به صلح نقطهٔ اختلافی میان رهبری جدید و مخالفینش نیست و این نشان می‌دهد که ملا اختر محمد منصور و مخالفینش در مورد اینکه صلح یک ضرورت است، با هم توافق دارند.

اما اختلاف بر سر جانشینی است که می‌تواند تا مدتی ادامه یابد. اگر مخالفین ملا اختر محمد منصور بتوانند لااقل بخشی از فرماندهان میدان جنگ را با خود موافق سازند، در آن صورت امکان انشعاب در صف طالبان ممکن خواهد بود.

مخالفین منصور تا کنون نگفته اند که به دیل آنان، برای رهبری به جای اختر محمد منصور، کیست؟ گفته می‌شود که آن‌ها روی جانشینی پسر ملا محمد عمر تاکید دارند. با توجه به اینکه گروه طالبان بیش از اینکه یک گروه سیاسی باشد، گروهی شدیدا مذهبی است، مسئلهٔ جانشینی پسر به جای پدر و طرح این سوال که آیا امارت میراثی است و یا نه، می‌تواند بیشتر موضوع بحث‌های فقهی در میان آنان باشد تا اینکه بحث و جدل‌های سیاسی را برانگیزد.

با توجه به این کشمکش‌ها می‌توان پیشبینی کرد که پروسهٔ صلح برای مدت نامعلوم دستخوش تعویق خواهد شد زیرا شرکت در پروسهٔ صلح در شرایط اختلاف، می‌تواند موقف جناح شرکت کننده در مذاکره را به خصوص در میان طالبان مسلح تضعیف نماید.

# د جنايي پېښو زياتوالی؛ عوامل او حل لارې



د حکومتي ارګانونو د تعريف له مخې، د دولت د وسلهوالو مخالفينو له خوا ترسره کېدونکو پېښو پرته د تاوتريخوالي پېښې، وژنې، غلاګانې، انسان تښتونې، جنسي تېرې او نور جرايم، جنايي پېښې دي چې په تېرو درېيو کلونو کې يې کچه ډېره لوړه شوې او ورځ تر بلې لوړېږي.

د يوې حکومتي سرچينې له قوله، يوازې په کابل کې هره ورځ شاوخوا ۵۰ جنايي پېښې کېږي او د کابل د امنيه قوماندان له قوله يوازې په وروستيو دوو اونيو (د زمري مياشتې په لومړۍ نيمايي) کې د ۱۱۷ قضيو په تړاو ۲۰۵ کسان نيول شوي دي.

د تېرو څو کلونو د جنايي پېښو شاليد ته په کتو سره، ولې دارنګه پېښې ورځ تر بلې زياتېږي؟ مهم لاملونه يې کوم دي؟

## د ثبت شويو جنايي پېښو کچه

له تېرو اوو کلونو راهيسې په هېواد کې د جنايي پېښو ګراف مخ په لوړېدو دی. په ۱۳۸۷ کال کې په مجموعي توګه ٦۷۸٦ جنايي پېښې ثبت شوې وې، چې تر ۱۳۸۹ کال پورې دا کچه د زياتېدو په حال کې وه؛ خو له ۱۳۸۹ کال څخه تر ۱۳۹۰ کال پورې بيا د جنايي پېښو ګراف ډېر لږ راټيټ شو. د ۱۳۹۱ کال له پيل سره

جنايي پېښو يو ځل بيا زور واخسيت او په ۱۳۹۱ کال کې د ثبت شويو جنايي پېښو شمېر ۱۵۵۹۳ ته ورسېد. په ۱۳۹۲ کال کې دغه شمېر لا زيات شو او په مجموعي ډول په دغه کال ټولې ثبت شوې جنايي پېښې ۲۷۱۲۲ ته ورسېدې.

د احصائيوي مرکزي اداري د فصلوارو احصائيوي شاخصونو له مخې، په ۱۳۹۳ کال کې ۱۵۰۵۰ پېښې ثبت شوې دي؛ خو دا يوازې د ۱۳۹۳ کال د لومړيو دريو ربعو ارقام دي او د وروستۍ (څلورمې) ربعې شمېرې د راپورونو د نه خپرېدو له کبله، نه دي پکې شاملې شوې. (وګورئ، الف جدول)

که د ۱۳۹۳ کال ربعوارو ارقامو ته وګورو، نو جوتېږي چې د لومړيو دريو ربعو مجموعي ارقام ۱۵۰۵۰ بيا هم د تېر کال (۱۳۹۲) د لومړيو دريېو ربعو په پرتله لوړ دي؛ ځکه د ۱۳۹۲ کال په لومړيو دريېو ربعو کې تقريباً ۱۴۵۵٦ جنايي پېښې ثبت شوې وې.

پورته چې د جنايي پېښو په تړاو خومره کوم ارقام وړاندې شوي، يوازې ثبت شوې پېښې دي او ناثبت شوې پېښې نه دي پکې شاملې.

**الف جدول:** په مختلفو کلونو کې د جرايمو شمېرې

| کال | 1387 | 1388 | 1389 | 1390 | 1391 | 1392 | 1393 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جرائم | 6786 | 7164 | 7010 | 6929 | 15593 | 27122 | 15050* |

*ماخذ: د افغانستان د احصائيوي کلنی راپورونه (۱۳۹۲) او ربعوار احصائيوي شاخصونه (۱۳۹۳)*




* په دغو ارقامو کې د ۱۳۹۳ کال د وروستۍ ربعې ارقام نه دي شامل شوي.

## ناثبت شوې جنايي پېښې

په عدلي او قضايي ارګانونو کې اداري فساد، د مجرمينو نه نيول کېدل او يا هم بېرته خوشي کېدل، په لرې پرتو سيمو کې د دولت کمزورې حاکميت او په هېواد کې پر سياسيونو د مجرمينو د مافياوو اغېزو ته په کتلو سره، د جنايي پېښو ريښتينې شمېرې له پورته يادو شويو شمېرو لوړې دي.

د یوې څېړنې له مخې، په ډېرو مواردو کې د پورته يادو شويو عواملو له مخې د جنايي پېښو قربانيانو د حکومت امنيتي ارګانونو ته خبر نه دی ورکړی، يو کس چې د وسله‌والې غلا له پېښې سره مخ شوی، وايي: «د مجرمينو د نه نيول کېدو له کبله مو پوليس ته خبر ورنه کړ. که څېرې مو د مجرمينو په نيول کېدلو هم باور درلودای، نو بيا مو هم د عدلي او قضايي ارګانونو د اوږدو پروسو او اداري فساد له کبله، نور سرخوږی ځان ته نه جوړاوه.»

له پورتنۍ بېلګې څخه روښانه ده، چې پر پوليسو بې‌باوري، د ځواکمنو مجرمينو نه نيول کېدل، د مجرمينو تر شا پټ سياسي لاسونه او مافياوې، په عدلي او قضايي ارګانونو کې اداري فساد او په لرې پرتو سيمو کې د دولت د حاکميت نشتوالی، هغه عوامل دي چې د ډېرو جنايي پېښو د نه ثبتېدو لامل شوي دي.

## د جنايي پېښو د زياتېدو عوامل

جنايي پېښې په مشخصه توګه څو ځانګړي عوامل نه لري، بلکې د هرې جنايي پېښې عوامل له بلې سره توپير لري؛ خو بيا هم په عمومي توګه اقتصادي، ټولنيز، قضايي او سياسي عوامل د جنايي پېښو د زياتوالي د لاملونو په توګه يادولی شو:

1. **اداري فساد**

اداري فساد د جرمونو د کچې په لوړوالي کې مهم عامل بلل کېږي. د شفافيت نړيوالې ادارې د ۲۰۱۴ کال د کلنۍ راپور له مخې، افغانسان په اداري فساد کې ځلورم هېواد دی او د افغانستان د روڼتيا څار ادارې د ۲۰۱۴ کال د سروې له مخې، په افغانستان کې عدلي او قضايي ارګانونه او پوليس تر ټولو ډېر په فساد کې ښکېل بللي دي. دا چې د عدلي او قضايي ارګانونو ترڅنګ پوليس هم په فساد کې تر ټولو زيات ښکېل وي، دا بيا مجرمينو ته فرصت برابروي، چې د رشوت په بدل کې ځانونه خوشي کړي او په لازيات ډاډ سره خپلو جرمونو ته دوام ورکړي، همدا لامل دی چې ډېرې نيول کېدونکي مجرمين جرمي سابقه هم لري. کله چې د مجرمينو باور

وي چې د رشوت په بدل کې خوشې کېدای شي، نو هومره به په هېواد کې جرمونه هم زیاتېږي. له بلې خوا د امنیتي ځواکونو نامسلکي توب هم د دې لامل شوی، چې د دارنګه پېښو په مخنیوي کې پاتې راشي او حتی په ځینو مواردو کې د دا ډول جرایمو په ارتکاب کې، له مجرمینو سره ملګري وي.

2. **زورواکي او سیاسیون**

د جنایي پېښو د زیاتوالي بل مهم لامل زورواکي او د واک او ځواک څښتنان مجرمین دي، چې د پلازمېنې کابل په ګډون د هېواد په ډېری سیمو کې د خپلو شومو اهدافو لپاره له جنایتکارو ډلو ملاتړ کوي او د قانون پر وړاندې له هغوی نه دفاع کوي. دا چې ځینې سیاسیون له مجرمینو او ځینو مافیاو سره ملاتړي دي، له همدې کبله د پولیسو له خوا د دوی نیونه ناممکنه برېښي.

د تېرو کلونو په ثبت شویو پېښو کې ډېری پېښې داسې دي، چې د لویو ښارونو له باامنه سیمو څخه په رڼا ورځ او د تورو شیشو لرونکو موټرونو څخه په استفادې سره، د انسان تښتونې پېښې کېږي؛ خو نه یې مجرمین نیول شوي او نه سزا ورکړل شوې ده.

3. **کلتوري یرغل**

که د جنایي پېښو وروستیو ارقامو ته وګورو نو جوته به شي، چې په هېواد کې د زنا[1]، قمار[2]، قتل[3] او وهلو ټکولو[4] پېښې د زیاتېدو پر لور دي. د بېلګې په ډول د تېر ۱۳۹۳ کال په سنبلې میاشت کې د کابل په پغمان ولسوالۍ کې د غلا او ډله‌ییز جنسي تېري او همدا راز په مختلفو ولایتونو کې د جنسي تېریو نورې پېښې د یادولو وړ دي. په ډېری توګه د دغو ناوړه پېښو تر شا د وروستیو ۱۴ کلونو بې‌سانسوره رسنۍ او د نورو هېوادونو له خوا کلتوري یرغل ستر عامل بلل کېږي. د مشهورو تلویزونونو له خوا چې له بېلابېلو لورو څخه تمویلېږي، غیر اخلاقي سریالونه او غیراخلاقي فلمونه هغه څه دي، چې نه زموږ د ټولنې له دیني ارزښتونو او کلتور سره سر خوري او نه یې هم پیغام مثبت دی، بلکې یوازې د همدې لامل کېږي، چې زموږ په ټولنه کې اخلاقي ګډوډي رامنځته کړي.

---

[1] د افغانستان احصائیوی کلنی (۱۳۹۲) له مخې له ۱۳۹۰ کال څخه تر ۱۳۹۲ کال پورې د زنا جرمونه له ۲۸۱ څخه ۹۹۶ ته زیات شوي دي. مخ ۹۴
[2] د افغانستان احصائیوی کلنی (۱۳۹۲) له مخې له ۱۳۹۰ کال څخه تر ۱۳۹۲ کال پورې د قمار جرمونه له ۲۰ څخه ۲۹۱ ته زیات شوي دي. مخ ۹۴
[3] د افغانستان احصائیوی کلنی (۱۳۹۲) له مخې له ۱۳۹۰ کال څخه تر ۱۳۹۲ کال پورې د قتل جرمونه له ۱۲۳۱ څخه ۲۹۴۱ ته زیات شوي دي. مخ ۹۴
[4] د افغانستان احصائیوی کلنی (۱۳۹۲) له مخې له ۱۳۹۰ کال څخه تر ۱۳۹۲ کال پورې په مجموعي توګه د وهل او ټکولو جرمونه ۴۸۱۹ وو. مخ ۹۴

د دغو رسنیو له خوا په دوامدار ډول زموږ د ټولنې دیني ارزښتونه ټکول کېږي او پر ځای یې د اخلاقي فساد ترویج ته لمن وهل کېږي، په داسې حال کې چې د جنایي جرمونو په ټیټوالي کې یو ستر مرستندوی عامل، په رسنیو کې له مبتذلو نشراتو مخنیوی او پر ځای یې د مفیدو او د عامه پوهاوي لوړوونکو نشراتو خپرېدل بلل کېږي.

### 4. ناقانونه وسلې او غیرمسؤول وسله‌وال

همدا راز د ځینو امنیتي چارواکو په اند د جنایي پېښو یو اساسي لامل له ګاونډیو هېوادونو څخه په قاچاقي توګه د غیرقانوني وسلو راوړل دي، چې دلته په ارزانه بیه په خلکو پلورل کېږي او هغوی بیا ترې په جنایي پېښو کې ګټه اخلي.

خو د دې ترڅنګ په زیاتو سیمو کې سیمه‌ییز زورواکي او نامسؤوله وسله‌وال، چې معمولا د حکومت له جګپوړو چارواکو سره تړاو لري، د دغو جرایمو په ترسره کولو کې ستر رول لري. د بېلګې په ډول څو ورځې مخکې په بغلان کې د یوه واده په مراسمو کې د دوو کسانو په وسله‌واله نښته کې 22 تنه ووژل شول چې له کومې ستونزې پرته یې له ځان سره وسلې ګرځولې.

### 5. غربت او بې‌کاري

په بنسټیزه توګه د ځینو جرمونو په تېره بیا وسله‌والو غلاوو تر شا وزګارتیا او بې‌کاري هم لوی لامل دی. په دې تړاو ډېرى پوهانو څېړنې او نظریې هم وړاندې کړې دي، چې د جرمونو او وزګارتیا یا لږو امتیازاتو ترمنځ د اړیکو ښودنه کوي. کله چې وزګارتیا زیاته شي، په قانوني ډګر کې د پیسو لاسته راوړل محدودېږي او له ناقانونه لارو څخه د پیسو لاسته راوړل (جرمونه) زیاتېږي.

دا مهال د هېواد په کچه وزګارتیا د نورو وختونو په پرتله زیاته ده. همدا لامل دی، چې په ډېری سیمو کې ځینې خلک په غلاوو، اختطاف، لوټمارۍ او نورو جنایي پېښو کې ښکېل دي. د دې ترڅنګ کورنې تاوتریخوالي هم په ډېری مواردو کې له اقتصادي ستونزو سره تړاو لري.

## حل لارې او سپارښتنې

دا چې په هېواد کې څه ډول د جنايي پېښو مخنيوی وشي، په دې تړاو لاندې سپارښتنې د پام وړ دي:

- په امنيتي او عدلي او قضايي ارګانونو کې د اداري فساد د مخنيوي لپاره اغېزناکې پاليسۍ جوړې او تطبيق شي؛ ځکه په افغانستان کې اداري فساد په پوليسو او عدلي او قضايي ارګانونو کې تر ټولو زيات دی.
- د جنايي پېښو-ضد ارګانونه پياوړي شي او د کارکوونکو د روزنې ترڅنګ يې تنخواوې زياتې شي، ترڅو يې په اداري فساد کې د ښکېلتيا کچه راټيټه شي.
- د کاري زمينو برابرولو هڅې وشي؛ ترڅو هغه ځوانان چې د وزګارتيا، بې‌کارۍ او غربت له کبله د بوږنوونکو جنايي پېښو باعث کېږي، په مناسبو کارونو بوخت شي.
- د جنايي مجرمينو په تړاو د حکومت او قضايي ارګانونو دريځ سخت شي، ترڅو يې له کبله نور مجرمين په شعوري توګه جرمونو ته زړه ښه نه کړي.
- په هېواد کې د جنايي پېښو په تړاو ارقام راټول شي او د ارقامو، سروې‌ګانو او څېړنو له مخې په مشخص ډول د جنايي پېښو عوامل په نښه شي او بيا د هغو عواملو د له منځه وړلو لپاره جدي هلې ځلې وشي؛ ځکه جنايي پېښې د ټولنې پر وضعيت هراړخيزې اغېزې ښندي.

پای

**ارتباط با ما:**

ايميل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 747575741 drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com